# روسیه د مهار او خپلواکۍ د سیاست تر منځ او نړۍ ته د دې شخړې خطرونه

## بسم الله الرحمن الرحیم

## (پنځمه برخه او وروستۍ برخه)

## (ژباړه)

په تېره برخه کې مو وویل چې د نړیوالو اتحادونو او ایتلافونو تر منځ اوسنۍ جګړه د لومړۍ نړیوالې جګړې فضا ته ورته ده او هره ورځ یوه نوي پړاو ته داخلېږي. اټکل دا دی چې دغه جګړه به یو دم خطرناکه شي او بشریت به له بې شمېره ګواښونو او خطرونو سره مخ کړي. دغه خطرونه څه دي چې ممکن له یادې ویجاړوونکې جګړې څخه رامنځته شي؟

په واقعیت کې اټکل کېږي چې له دغې نړیوالې جګړې څخه به په ټولو سیاسي، اقتصادي او نظامي بڼو بې شمېره خطرونه رامنځته شي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- له دغه ایتلاف او اتحاد څخه د وتلو لپاره د اروپایي هېوادونو لېوالتیا؛ چې دلیل یې لوړ لګښتونه، په ډېره کچه زیانونه، ازاد بازار او د انرژۍ لوړې بیې دي. غرب د هرې ورځې په تېرېدو سره په دې جګړه کې میلیونه ډالر لګوي؛ څنګه مو چې وړاندې بیان کړه، په دې وروستیو کې له یادې جګړې څخه د المان او فرانسې نارضایتۍ ښکاره شوې چې له دې جګړې څخه د وتلو لپاره یې د سیاسي حللارې غوښتنه کړې ده. د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون چین ته د سفر پرمهال د چین را وړاندې کېدل د حللارې په توګه تایید کړي او په دې سره په تایوان کې د چین پر وړاندې د جبهې له جوړولو تېر شوی دی؛ المان هېواد هم په همدغه نظر دی.

المان او فرانسه په اروپایي ټولنه کې تر ټولو ستر او فعال دولتونه دي. له همدې امله امریکا په چټکۍ سره د دغه وړاندې تګ د ردولو لپاره ګامونه پورته کړل او د اوکراین د اشغال لپاره یې د حللارې په رامنځته کېدو کې د فرانسې ستاینه وکړه. د جګړې اوږدېدو په اروپا کې پر سیاسي ګوندونو اغېز وکړ، په داسې بڼه چې ښي اړخي افراطي ګوندونه د ټاکنو په پروسه کې له یوه هېواد څخه په ډېرو کې بریالي شول او په امریکا کې یې هم پر دوو لویو ګوندونو تاثیر کړی دی؛ داسې چې د روان میلادي کال د پورونو د لوړېدو موضوع نن ورځ په سیاسي موسسو کې شخړې راپورته کړې دي. اقتصادي ګواښ یا په دغو هېوادونو کې د نویو اقتصادي ناورینونو رامنځته کېدل هم بل خطر ګڼل کېږي، په ځانګړي ډول دې ته په کتو چې امریکا له ۲۰۰۸م کال څخه تر اوسه له زیان سره مخ ده، ځان یې نه دی ژغورلی او د جګړې لګښتونه او له همدې امله رامنځته شوي زیانونه کېدای شي د ۲۰۰۸ م کال تر ناورین لوی نړیوال او اغېزمنوونکی بحران رامنځته کړي.

۲- په داسې حال کې چې ناورین نور هم سخت او حالت نازک شي؛ روسیه به له ډېرو خطرونو سره مخ شي چې پاشل کېدل به یې اسانه وي. که چین د روسیې له ملاتړه لاس واخلي یا غرب د اوس په څېر پر روسیه سخت محدودیتونه وضع کړي، اغېز به یې ډېر سخت او لوی وي. پر روسیه وضع شوي محدودیتونه بې مخینې دي او د وخت په تېرېدو سره هره شېبه ډېرېږي. د روسیې اقتصاد له سخت زیان سره مخ دی، چې د ژوند په ټولو برخو کې یې نفوذ کړی دی.

سربېره پر دې روسیه د کلابندۍ په حال کې ده؛ د جګړې د هرې ورځې لګښتونه میلیونونه ډالرو ته رسېږي. روسیه له اقتصادي اړخه دومره غښتلې نه وه او د چین له همکارۍ پرته د اوږدې مودې لپاره جګړې ته دوام نه شي ورکولی. اټکل کېږي چې همدا موضوع د نړیوالې کلابندۍ پر وړاندې د روسیې د ثبات او پایدارۍ دلیل وي. مهمه مسله دا ده چې د پاڼ څنډې ته د روسیې نږدې کېدل به دغه هېواد دې ته اړ کړي، چې د خپل ځان د ژغورنې لپاره پر نویو اسالیبو فکر وکړي او ممکن داسې کچې ته ورسېږي چې هم ځان او هم خپل دښمن زیانمن کړي. دا هغه څه دي چې د روسي سیاستوالو لکه؛ ولسمشر، د بهرنیو چارو وزیر او د روسیې د ملي امنیت سلاکار یې څو څو ځله خبرداری ورکړی دی.

۳- خو د چین په اړه؛ د دغه هېواد ډېری مسوولینو خبرداری ورکړی، چې د تایوان په مسله کې د امریکا د لاسوهنو د ډېرېدو په صورت کې به له زور او قدرت څخه کار واخلي. د دغه هېواد د حکومت ویاند «سون یلي» د چین د کمونیستي حزب شلمه کنګره کې څرګنده کړه: «هېواد به یې د تایوان د ستونزې د حل لپاره د تجزیې او د پردیو د لاسوهنې په صورت کې له زور او امکاناتو کار واخلي.» نوموړي د یاد کنفرانس تر جوړېدو وړاندې په یو بل مطبوعاتي کنفرانس کې وویل: «موږ له زور او قدرت پرته د بل څه ګواښ نه کوو.» وروسته یې وویل: «موږ ځان ته دا حق ورکوو چې د بهرنۍ لاسوهنې او د ډېر کم شمېر تجزیه غوښتونکو ځواکونو پر وړاندې له ټولو لازمو امکاناتو کار واخلو، چې د تایوان د خپلواکۍ غوښتونکي دي او د تجزیې غوښتنې فعالیتونه ترسره کوي.»

د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۷مه د چین د بهرنیو چارو وزیر د امریکا حکومت ته پیغام ولېږه او په هغه کې یې ویلي وو؛ اټکل کېږي چې پکین روسیې ته په اوکراین کې نظامي مرسته ولېږي. نوموړي ټینګار کړی چې دغه ګام به د تایوان د تجزیې لپاره د وسلو د پلورلو په غبرګون کې ترسره کړي.

د دغه مطبوعاتي کنفرانس په جریان کې د چین د بهرنیو چارو وزیر «چین ګانګ» داسې وپوښتل: «امریکا ولې له چینه غواړي چې روسیې ته د وسلو د لېږد مخه ونیسي، په داسې حال کې چې پخپله پر تایوان د وسلو پلورلو ته دوام ورکوي؟!

دغه شخړه چين گواښي، ترڅو په هر اړخیزه توگه يې په تايوان کې جگړې ته ور کش کړي، لکه له روسيې سره يې چې په اوکراين کې وکړل.

۴- اقتصادي اغېز په عامه توگه پر نړۍ او په خاصه تگه پر بېوزلو هېوادونو اوسمهال سيوری غوړولی دی. په همدغه دليل امريکا دې جگړې ته اهميت ورکړی، ميلياردونه ډالر يې لگولي او په پايله کې يې هڅه کوي چې له بېوزلو هېوادونو سره بهرنۍ مرستې راکمې کړي او له بلې خوا د اوکراين ويجاړوونکې جگړې نړيوال بازارونه له ماتې سره مخ کړي دي او ښايي د يو شمېر هېوادونو د ماتې او گواښ لامل شي. د دې سبب د بازار د تورم ډېرېدل او د خوراکي توکو په ځانگړي ډول د غلو دانو د بيو لوړېدل وو، چې دليل يې د اوکراين د لارو تړل او په دغه هېواد کې په پراخو سيمو کې د کرنې نشت او انحصار دی.

د نړۍ د نن ورځې فضاء د لومړۍ او دويمې نړيوالې جگړې غوندې ده، چې په بشپړه توگه د لويو دولتونو تر منځ د جگړې او دښمنۍ فضاء ده. امريکا به له خپل دغه ظالمانه سياست څخه لاس وانخلي، ځکه غواړي چې خپله نړيواله واکمني او قدرت خوندي کړي. دا هر څه يوازې هغه وخت امکان لري، چې امريکا خپل دښمن له منځه يوسي، يا د نږدې او مخامخ جگړو په واسطه يې وگواښي او يا پر دښمن د فشار راوړلو لپاره له نورو اسالیبو څخه کار واخلي، چې په دې صورت کې امريکا د خپل قدرت ساتلو لپاره ممکن له خپل زور څخه گټه واخلي؛ ځکه په دې اړه د امريکا چوپتيا د روسيې او چين د پرمختگ په مانا ده، چې اروپا هم د امريکا د ځوروونکي سياست له امله له دغو دوو هېوادونو سره ممکن يوځای شي. همدارنگه د دې ډيپلوماتيکې جگړې د پای ته رسېدو لپاره هيلې نشته دي، ځکه د امريکا ټوله هڅه دا ده چې خپل دښمن بايد مات کړي او پر نړۍ خپله واکمني وساتي؛ ځکه له دې پرته به نور هېوادونه له امريکا څخه لرې شي او په دې توگه به امريکا له دغه مقام او رتبې څخه راولوېږي. که دغه کار وشي، نو په راتلونکي کې به په حساسو مسايلو لکه د ډالرو په قدرت کې به دويم اتحاد لاسوهنې وکړي، ملگري ملتونه به په سم ډول له سره فعاليت وکړي او د نړۍ په رهبرۍ کې به اوسنی حالت پای ته ورسېږي. دا د امريکا لپاره يو وژونکی گوزار گڼل کېږي، ځکه چې د امريکا د بقا او ثبات کيلي همغه د قدرت ساتل دي.

په پای کې وايو: دغه ويجاړوونکې جگړه چې هره ورځ زور اخلي او سرعت يې د لوړېدو په حال کې دی، د دغو هېوادونو تر منځ او نړيوالې جگړې واقعيت يې څرگند کړی دی او هغه څه يې د خلکو په ذهنونو کې متصور کړي، چې په دوو نړيوالو جگړو کې ترسره شول او همدارنگه د کوريا، ويتنام او نورو ځايونو په څېر د جگړو پايلې هم متصوروي. همدارنگه د اوسنۍ او حاکمې مبدأ حقيقت يې څرگند کړی دی او د نړيوالو ستونزو د حل، د نړيوالې سولې د خپراوي او په نړۍ کې د اقتصادي عدالت پر وړاندې د ناروغۍ او ناتوانۍ اندازه هم څرگندوي.

د دغو هېوادونو او دولتونو سياستونو او اقداماتو د بشر د رهبرۍ لپاره د هغوی له نه وړتيا څخه پرده پورته کړې ده، د پانګوالۍ مبدأ افشا شوې او د ټولې ځمکې پر مخ د خلکو عقل د بيدارېدو په حال کې دی او دا الهام ورته کوي چې نړۍ يوه نوي نظام ته اړتيا لري؛ ځکه په خبره يې چې اوسني نظام ځمکه زيانمنه کړې ده. داسې نوی نظام نه چې اساس يې د اوسنيو ماته خوړلو دولتونو پر نويو اتحادونو او ايتلافونو ولاړ وي.

دغه جګړه په لومړي سر کې امت ته هغه لوی امانت او ستر مسووليت وريادوي، چې الله سبحانه وتعالی يې په دغه قول کې يادونه کړې ده:

**﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً﴾**

[بقره: 143]

***ژباړه:*** *همدارنګه موږ تاسو وسط امت کړلئ، چې پر خلکو شاهدان وئ او پيغمبر پر تاسو شاهد وي.*

له دغه ناوړه حالت څخه د بشريت د ژغورلو په برخه کې د بشريت لپاره د امت شهادت ربښتيا شوی دی او يوازې د الله سبحانه وتعالی دين کولی شي بشريت له دغو کړاوونو او مصيبتونو څخه وژغوري. هغه دين چې سيالي يې يوازې د خير کار لپاره اساس ګرځولې ده او له دې پرته هر ډول سيالي يې ناروا بللې ده. خلک يې د يو بل دوستان کړي، کرکه او بغض يې له منځه وړي.

په حقيقت کې کله چې د دغې ناکامې مبدأ ماته، خواري او ذلت څرګند شوي، نو په نوي پړاو کې به موږ يو او د هغه نوي نړيوال نظم واک به له موږ سره وي، چې اسلامي امت به د خپل امانت او رسالت د پر ځای کولو لپاره د ټولو خلکو په هدايت او رهبري کولو سره پرمختګ کوي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (4) بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (5) وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾** [روم: 4-6]

***ژباړه:*** *په هغه هره ورځ مومنان د الله سبحانه وتعالی پر نصرت خوشحاله کېږي. الله سبحانه وتعالی له هر هغه کس سره مرسته کوي چې ويې غواړي، هغه سبحانه وتعالی (پر خپلو دښمنانو) برلاسی او (پر خپلو دوستانو) ډېر مهربان دی. دا د الله تعالی کړې ژمنه ده او الله به هېڅکله له خپلې ژمنې څخه شاته نشي؛ مګر ډېری کسان (چې کافران، مشرکان او منافقين دي) په دې نه پوهېږي.*

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې ژر تر ژره د ټولو بدیو ریښې او بنې له منځه یوسي، د هغوی دولتونه ونړوي او اسلامي امت بیرته خپل مقام ته پورته کړي! اللهم آمین و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

**لیکوال: حمد طبیب**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**